لیکوال: هانس کریستنس اندرسن
ژباړونکی: آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۹/۲۲

# بلبل

## (Nattergalen)
## H. C. Andersen

### دویمه برخه



په ماڼۍ کې پوره پاکي صفايي شوې وه. ديوالونه او غولي چې له چيني ښخه جوړ شوي وو، د زرگونو طلايي څراغونو تر رڼا لاندې ځليدل! ښکلي گلان چې په وړو زنگونو سره نور هم ښکلي کړای شوي وو، په لارو کې ايښودل شوي وو، په گلانو کې را زوړند زنگونه دومره ښوريدل او غږ يې کاوه چې خلک يو د بل په خبرو سم نه پوهيدل.
د ميلمستيا د سالون په منځ کې، د امپراتور د ناستې ځای ته نږدې، يوه زرينه کړۍ د دې له پاره را ځوړول شوې وه چې بلبل ورباندې کينې. ټول درباريان را ټول شوي وو، د پخلنځي وړوکې جلۍ چې اوس يې «د پخلنځي جلۍ» نوم خپل کړی و، اجازه يې درلوده چې د يوې دروازې تر شا ودريږي او د بلبل غږ ته غوږ ونيسي. ټولو ښايسته جامې اغوستې وې او هغه واړه الوتونکي ته يې کتل چې امپراتور په ډيرې مينې سره خپل سر ورته ښوراوه.
کله چې بلبل سندرې پيل کړې، دومره ښې غاړې يې وکړې چې د امپراتور په سترگو کې اوښکې را ټولې شوې او کله چې د امپراتور اوښکې په تويدو شوې، واړه بلبل لا ښې غاړې وکړې، داسې ښه وچغيد چې غږ يې ټول زړونه خوشاله کړل. د امپراتور دومره خوښ شوی و چې امر يې وکړ چې د ده زرينې څپلۍ ور ډالۍ کړې، خو بلبل له امپراتور نه په مننې سره و ويل چې ډير وياړ مو را په برخه کړ او زياته يې کړه:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

«ما د امپراتور په سترګو کې چې کومې اوښکې ولیدلې، هغه ما ته ډېر ارزښت لري! د امپراتور اوښکې عجیب ځوک لري، خدای پوهیږي، چې ما ته همدا بسنه کوي!»
او بیا بلبل په خپل زړه وړونکي غږ سره سندرې و ویلې.
د دربار ټولو میرمنو و ویل:
«دا تر ټولو هغه زړه وړونکی او مینه ناک غږ دی، چې تر اوسه موږ اوریدلی دی!»
له هغه نه وروسته به یې کله چې له چا سره خبرې کولې، خولې به یې له اوبو ډکولې، څو وکولای شي له خولې ښه غږ را وباسي، هغوی داسې انګیرله چې د دې کار په کولو سره له دوی نه بلبل جوړ شي! تر دې پورې چې د دربار چوپړاني هم راضي وې او دې کار په رښتیا سره ارزښت درلود چې تر ټولو ستونزمن کار د هغوی راضي کول و! هوکې، په ماڼۍ کې د بلبل شته والی، تر ټولو ستر بریالیتوب و.
وپتیل شوه چې بلبل په دربار کې پاتې شي، یو کېس ولري او کولای شي دوه ځلې د ورځې له خوا او یو ځلې د شپې له مخې، په چکر ووزي. تل به دولس خدمتګاران ورسره وي، ټول چوپړان به په لاس کې د وریښمو یوه رسۍ لري چې یو سر به یې د خوارکوټي بلبل په پښه پورې تړلی وي. په داسې یو بد حالت کې، داسې یو چکر، په هیڅ ډول د خوښۍ وړ نه و.
د ښار ټولو اوسیدونکو، د داسې یو حیرانونکي الوتونکي په هکله خبرې کولې. کله به چې دوه تنه سره مخامخ شول، د همدې بلبل په باب به سره غږېدل. د خوراکي توکو د پلوسو دوکانونو خاوندانو د خپلو ماشومانو نومونه بلبل کېښودل، خو هغوی یوه هم غاړې نه شوای کولای.
یوه ورځ، یوه لویه غوټه د امپراتور په نامه راورسیده. پر غوټه لیکل شوي وو: «بلبل» امپراتور د غوټې په لیدو سره و ویل:
«ښایي زموږ د بلبل په باب کوم بل کتاب لیکل شوی وي.»
خو په غوټه کې کتاب نه، بلکې په لاس جوړ کړای شوی کوکي بلبل و او په قوتي کې ایښودل شوی و چې ریښتیني بلبل ته ورته و. دا په لاس جوړ کړای شوی بلبل له سرو او سپینو زرو جوړ شوی و او په ډېرو قیمتي ډبرو لکه: شنه یاقوت، سره یاقوت او الماسو ښکلی کړای شوی و. کله به چې کوک کړای شو، کولای یې شول د ریښتیاني بلبل یوه سندره و وایي او د سندرو ویلو په شیبه کې یې خپله نقرا ای لکی هم ښوروله. په غاړه کې یې یوه پټاره وه چې دا توري پرې لیکل شوي وو:
«د جاپان د امپراتور بلبل، د چین د امپراتور تر بلبله بې ارزښته دی.»
ټولو درباریانو په یوه خوله و ویل:
«ډېر په زړه پورې او ښکلی دی.»
هغه چا چې دا راوړی و، ډېر ژر یې د «د سلطنتي بلبل لوی زیری راوړونکی» لقب تر لاسه کړ. ټولو به ویل:
«هغوی باید ګډې سندرې و وایي، څه ښه به سره زیبي!»
هغوی سندرې سره و ویلې، خو، نه چنداني ښې، پې ګټې وې. ځکه چې ریښتیني بلبل په خپل ستایل غاړې کولې او د کوکي بلبل په ټټر کې چې څه ایښودل شوي وو، له هغه نه غږ راخوت.
د سلطنتي آرکستر مشر و ویل:
«دا د کوکي بلبل ګناه نه ده، نوټیشن سره سمې بدلې وایي، هغه زما د موسیقۍ د ښوونځي له جملې نه دی!»
له هغه نه وروسته کوکي بلبل اړ و چې په یوازې تن سندرې و وایي او لکه د ریښتیني بلبل په څېر، ډېر بریالیتوب هم ور په برخه شو. د دې تر څنګه د کوکي بلبل ظاهري بڼه د ګاڼو او قیمتي غمیو د کارولو په وجه هم ښه ښکاریده. کوکي بلبل یو سندره درې دیرش ځلې و ویله، خو ستړی نه شو او درباریانو غوښتل چې بیا یې تکرار کړي، خو امپراتور فکر وکړ چې اوس د ریښتیني بلبل وار دی چې سندرې و وایي؛ خو بلبل چیرې و؟ د هیڅ چا نه و پام شوی چې بلبل له خلاصې کړکۍ د شنه ځنګله په لوري الوتی و.
امپراتور په قهرجن ډول و ویل:
«دا کار څه مانا لري؟»
ټولو درباریانو د بلبل بد و ویل او هغه یې یو نا شکره موجود وګاڼه او وې ویل:
«په هر صورت، اوس ډېر ښه الوتونکی له موږ سره شته!» او کوکي بلبل اړوت چې بیا سندرې ووایي. دا هماغه سندره وه چې دوی څلوردیرش ځلې اوریدلې وه، خو تر اوسه یې زده کړې نه وه، ځکه چې ډېر ستوخمن غږ و.
د سلطنتي ارکستر مشر کوکي بلبل وستایه او اعلام یې وکړ چې دا بلبل نه یوازې د الماسو په درلودلو سره، له ظاهري پلوه ښه دی، بلکې له داخلي پلوه هم له حقیقي بلبل نه ښه دی.
هغه و ویل:
اعلیحضرت او ښاغلو!
تاسو هیڅکله نه شئ کولای چې د ریښتیني بلبل په باب وړاندوینه وکړئ چې څه به وشي، په داسې حال کې چې په کوکي بلبل کې غږ مخکې له مخکې پیش بیني شوی دی او پرته له دې نه، کولای شو هر څه توضیح کړو. کولای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

شو هغه خلاص کړو او انساني کار وښيو چي د غږ استوانه چيرې اېښودل شوي ده، څه ډول کار کوي او نور شيان څه ډول يو په بل پسې اېښودل کيږي!»
ټولو درباريانو په يوه غږ سره و ويل:
«بالکل زموږ خوښه هم همداسي ده!»
د سلطنتي ارکستر مشر اجازه تر لاسه کړه چي راتلونکي يکشنبې کوکي بلبل ټولو خلکو ته ور وښيي. امپراتور داسي ګڼله چي بايد ټول خلک د کوکي بلبل غږ واوري او خلکو د کوکي بلبل غږ واورېد او دومره خوند يې ور نه واخيست، لکه د مستيدو کوم څه يې چي څکلي وي، لاسونه او ګتي يې هوا ته جګولي او ويل يې چي : اوه پوهو، واه، واه!
خو خوارکوټي کب نيونکي چي د رښتياني بلبل غږ اوريدلی و، و ويل:
«دا ښه موزيک غږوي او غږ يې هم ښکلی او د الوتونکي په څير دی، خو يو شی کمبود لري، زه نه پوهيږم چي هغه څه شی دی!»
رېښتينی بلبل له هيواد او امپراتورۍ نه وشړل شو. کوکي بلبل د امپراتور د تخت په څنګ کې پر يوه ورېښمين بالښت باندې، د رېښتياني بلبل ځايناستی شو او ټولې قيمتي ډالۍ، سره زر او قيمتي ډبرې يې چي تر لاسه کړې وې، په څنګ کې ورته کېښودې. کوکي بلبل د «د سلطنتي ميز لوی سندرغاړي» لقب وګاټه او مقام يې له کيڼ اړخه لومړی و. امپراتور داسي ګڼله چي کيڼ لوری مهم دی، ځکه چي زړه په چپه خوا کې دی، حتی د امپراتور په بدن کې.
د سلطنتي ارکستر مشر د بلبل په باره کې يو کتاب وليکه چي پنځه ويشت ټوکه و. دا کتاب نه بوازې اوږد او له ډيرو مالوماتو ډک و، بلکې ډير ستونزمن چيني توري هم په کې کارول شوي وو، خو ټولو دا کتاب وپېرود او کله يې چي رانيوه، ويل يې چي کتاب يې ولوست او پرې بوه هم شول!
که يې داسي نه وای کړي، بيا نورو ته ناپوه او کودن ښکاره کيدل او په نسونو کې به په سوکانو وهل شوي وای.
په دې ډول يو کال واوښت. امپراتور، درباريانو او د چين ټول اوسيدونکي د «د سلطنتي ميز لوی سندرغاړي» د غږ هر نوټيشن يې له يادو ياد و، خو ولي يې هغه تکراري غږ خوښاوه؟ دا بې دليله نه و، ځکه هغوی کولای شول هغه و وايي او ويلي يې هم. په کوڅه کې شوخو کوچنيانو ويلې:
«زي، زي، زي!
کلاک، کلاک، کلاک!»
او امپراتور هم دا کار وکړ، هوکې، په رېښتيا چي ډير په زړه پورې او ښايسته و!

د دويمي برخې پای

منبع:

H.C.Andersen Eventyr,2,fra s.149-170,Odnsa,Denmark,1994.


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ